**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر د فرانسوي ژبې وېبپاڼې پرانیسته

(ژباړه)

د حزب التحریر۔ مرکزي مطبوعاتي دفتر خوښ دی چې په فرانسوي ژبه د وېبپاڼې د پرانیستې خبر ورکوي؛ دغه وېبپاڼه به د یوه پورټال په توګه د فرانسوي‌ژبو کسانو لپاره د نبوت پر منهج راشده خلافت د بیا تاسیس لپاره د هڅو منځپانګې تر پوښښ لاندې راولي.

دا نېک ګام د حزب التحریر او د دغه حزب د غړو د نه ستړي کېدونکو هڅو یوه پایله ده، چې له خلکو سره د اړیکو د ډېرولو لپاره پورته کېږي، ترڅو هر ممکن ځای ته د اسلامي امت تر پیروانو پورې ورسیږي.

د نبوت پر منهج د دویم راشده خلافت د تاسیس پروژه په کلک هوډ او پوره ځیرکتیا سره مخ پر وړاندې روانه ده.

د خلافت سقوط او هغه ویاړ چې له دې سره له اسلامي امت څخه واخیستل شو؛ د ټولو لپاره دردوونکی دی. له دې سره پر اسلام او د اسلام د حکومتولۍ پر نظام د سم پوهېدلو ارزښت د اسلامي امت د ځوانانو ترمنځ پر یوه پام وړ او جدي موضوع بدلېدونکی دی.

دلته باید د رسنیو او مطبوعاتو رول درک شي، چې د اسلام پیغام د یوې حیاتي موضوع په توګه وړاندې کوي؛ د اسلامي نظام ځانګړتیاوې او د خلافت د تاسیس معنی رانغاړي او دا چې د دغه نظام لپاره د نبوت له منهج څخه څنګه ګټه اخیستل کېږي.

له همدې امله موږ د مطبوعاتو له ټولو مخلصو متخصصینو څخه غواړو چې د نبوت پر منهج د راشده خلافت د بیا تاسیس په لټه کې شي؛ په ځانګړې توګه د فرانسوي ژبو مطبوعاتو له متخصصینو غواړو چې د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر د فرانسوي ژبې وېبپاڼه کې پر خپرو شوو منځپانګو او موادو بیاکتنه وکړي. له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې دوی ته د دوی په غوره چارو کې انګېزه ورکړي او له دې څخه هغه څه ترلاسه کړي چې د خلافت د بیا تاسیس لپاره کار بشپړوي.

موږ د الله سبحانه وتعالی په فضل د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر د فرانسوي ژبې وېبپاڼه پیل کړه او له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې موږ ته د هغه څه لاربښوونه وکړي چې هغه سبحانه وتعالی پرې راضي کېږي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِي كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيداً عَلَيْهِم مِّنْ أَنفُسِهِمْ وَجِئْنَا بِكَ شَهِيداً عَلَى هَؤُلاء وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَاناً لِّكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَى لِلْمُسْلِمِينَ﴾

**ژباړه:** *«[اې محمد صلی الله علیه وسلم، دوی له هغې ورځې څخه خبر کړه] چې کله موږ په هر امت کې په خپله د هغه له منځه یو شاهد راپاڅوو چې پر هغوی شاهدي ووايي؛ پر دغو خلکو د شاهدۍ ویلو لپاره موږ تا راولو. (دا د هماغه شاهدۍ تیاري دی) چې موږ دغه کتاب پر تا نازل کړی دی، چې په ډاګه ښکاره شي د هر شي څرګندوونکی دی. د هغو خلکو لپاره هدایت، رحمت او زیری دی چې د امر منلو ته یې غاړه یې ایښې ده.»*
[نحل: ۸۹]

د ویبپاڼې لینک: https://www.hizb-ut-tahrir.info/fr/

**انجنیر صلاح الدین عضاضه**

**د حزب التحریر- مرکزي مطبوعاتي دفتر مشر**

**۱۴۴۴ هـ.ق، د شعبان ۱۸مه**

**۲۰۲۳م کال، د مارچ ۱۰مه**

**د صدور ګڼه:۳۱/ ۱۴۴۴**